عبدالباري جهاني ۲۰۱۹/۰۹/۲۱

د هندو صوفي بهګت کبیر څو شعرونه

بهګت کبیر د هند یو صوفي شاعر وو چې هم په ژوند او هم له مړیني وروسته یې په مسلمانانو او هندوانو دواړو کې ډېر زیات شهرت او محبوبیت درلود. بهګت کبیر د هندوانو په تر ټولو ټیټه طبقه جولا پورې اړه درلوده، چې د هند د کلاسیکو مذهبي کتابونو په اساس د مذهبي زده کړې او حتی د ویدا کتاب ته د غوږ نیولو څخه منع وو. هغه، سره له دې چې سواد یې هم نه درلود، په خپلو اولسي شعرونو، چې د بشر دوستی له احساس څخه مالامال وه، ځان داسې ځای ته ورساوه چې نن یې د هند په ټولنه کې د ډېرو لویو مذهبي پېشوایانو او برهمنانو په کتار کې ځای نیولی دی. د بهګت کبیر ژوند، له زېږېدلو څخه تر مرګ پورې، ټول په تیاره کې دی. له تاریخي متونو څخه، چې ده ته یې اشاره کړې ده، ځرګندیږي چې په پنځه لسمه میلادي پېړۍ کې یې ژوند کړی دی. اولسي روایتونه وایي چې تر مرګه پورې یې خپله ډوډۍ د جولاګرۍ له لارې پیدا کوله او د زرګونو پیروانو له مرستو څخه یې ګټه نه پورته کوله. فوکلوري افسانې وایي چې کله مړ سو نو هندوانو غوښتل چې ویې وسوځوي او مسلمانانو غوښتل چې ښخ یې کړي.او کله چې د بهګت کبیر خلوت ته ورننوتل نو ویې لیدل چې د هغه پر ځای باندې د ګلونو یو خرمن پروت دی. مسلمانانو خپله برخه خاوروته وسپارله او هندوانو خپله برخه وسوځوله. د هند د خاوري تر ټولو مشهور او محبوب بنګالي ژبې او بنګالي شاعر، او په آسیا کې د نوبل د ادبي جایزې لومړني ګټونکي، رابیندرانات ټاګور د بهګت کبیر شعرونه له محلي ژبې څخه په انګلیسي نثر ترجمه کړل او ما هغه شعرونه بیرته په پښتو نظم واړول. زه یقین لرم چې دا ترجمې د پښتو ادب په خزانه کې یوه اضافه ده:

د خالق وجود

چې خالق خپل ځان ځرګند کړي و خپل ځانته
څوک په سترګو یې جلوه نه سي لیدلای
لکه تخم په نبات کې وي دننه
او سایې له ونو نه سي را وتلای
د اسمان په پراخه غیږه کې خلا ده

ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

په خلا کي بې سرحده مخلوقات دي
د دې ټول بې انتهی مخلوق په ها خوا
بې سرحده بې حسابه کاینات دي
سر پر سر بې انتهی ده چی هستېږي
په بې حده کی محدود دی چی ځلېږی
ټول مخلوق دی د خالق دننه ځان کي
او خالق په مخلوقاتو کی ځرگند دی
یو له بله سره بېل یې وجودونه
خو بیا یو دي سره کړی یې پیوند دی
دی پخپله یوه ونه ده ولاړه
هم دانه ده هم نطفه ده او هم دواړه
هم پر ونه باندی گل دی غوړېدلی
هم مېوه ده او هم سیوری را لوېدلی
دی هم لمر دی پر اسمان باندي ختلی
دی هم نور دی هم له نوره ځلېدلی
دی پخپله هم خالق د مخلوقاتو
هم مخلوق دی او هم جز دکایناتو
دی پخپله په څو رنگه ځرگندېږي
په بې حده کایناتو کی هستېږي
هم نفس دی هم کلام دی هم معنی ده
هم بې حده هم پخپله انتهی ده
د بې حده او محدود شاته اوسېږي
د خالص وجود مفهوم پکښی ځلېږي
په خالق او مخلوق دواړو کی باقي دی
نه وجود یې محو کېږی نه فاني دی
یو ستر روح دی چی د روح منځ کی هستېږی
په دې ستر روح کی یو ټکی لیده کېږی
په دې ټکي کی دننه یې جلوه ده

د محدود او د بې حده ننداره ده
کبیر ځکه دی نېکمرغه او ښاغلی
چې دا ستر روح یې په سترګو دی لیدلی.

حقیقت په کور کې:

هغه ښوک ماته عزیز دی چې مې وغواړي خپل کورته
ما ژغوري له ګمراهیو ما ور بولي و خپل لورته
په هغه کور کی یې وینم چې ریښتونی پیوستون دی
هغه کور کې نعمتونه په هغه ځای کی ژوندون دی
ولی خپله مینه پرېږدم سر ګردان سم په ځنګلو کی
که خالق راسره مل وي زما د ژوند په اندېښنو کی
که په کور کی مې نجات وي هم ځنځیر مې پښو ته لوېږي
ولي ووزمه ځنګله ته دلته هر څه را رسېږی
هغه ښوک ماته عزیز دی په خالق کی چې غرقېږی
ورسره هغه طاقت دی چې ژور پکښې ډوبېږی
چې په ذکر د خالق کی ورنه هېر سي عالمونه
هم یې ځان ور څخه ورک سي هم یې زړه هم یې رګونه
هغه ښوک ماته عزیز دی چې په خپل خالق پوهېږی
د دې ستر حقیقت منځ کی په خپل ذکر کی اوسېږی
چې د ستر او بې سرحده په نامه نغمې خپرې کړي
د وحدت مینه کی ډوب سي د ژوند هېرې ترانې کړي
کبیر وایی هغه کور دی د سړي د اوسېدلو
هغه کور دی پیدا سوی په ریښتیا د پوهېدلو
په تلاش که د ریښتیا یې هغه کور کې پیدا کېږی
لیری مه ځه څه چې غواړې پر خپل وخت به در رسېږي.

ماته هر څه یو دي:

له خالق سره وحدت که دي په سر دی
نو ساده وحدت له هر څه نه بهتر دی
شیخه ما چی له لومړی ورځي لیدلی
غرق په مینه کی زړګی می د دلبر دی
نه می سترګي له لیدو څخه تړمه
نه می غوږ له اورېدلو بندومه
نه وجود له ریاضته کړومه
نه مي عمر په خلوت کی تېرومه
په خندا په خلاصو سترګو را ښکاریږي
په هر ځای کی یې ښکلا ده چی ځلیږي
زما پر ژبه د ده نوم دی چی څرخیږی
چی هر څه ګورمه دی راته یادیږي
که کښېنم که پورته کېږم دواړه یو دی
له هر کاره می د ده سجدې جوړیږي
چی هر چېرته ځم پر ده طواف کومه
د ژوند هره معما راته حلیږي
چی پرېوزم تل د ده په پښو کي پروت یم
ژوند می ټول د ده خدمت دی را رسیږي
دا یو ذات دی چی په ژوند کی یې ستایمه
دا یو نوم دی چی پر ژبه یې لرمه
زما له ژبي هېر دي ټول د غیر نومونه
شپه او ورځ یې د عظمت وایی سرودونه
نه په ناسته نه ولاړه می هېریږي
دا یو ساز دی چی غوږو کی می ږغیږي
کبیر وایی شور د میني در ښیمه
په سینه کی پټ اِسرار ښکاره کومه

زه د داسې مينې اور يم سوځولی
چې نه غم او نه خوښی يم پيژندلی.

ورونو کله چې زه ورک وم:

ورونو زما څخه وې ورکې ټولې لارې گودرونه
حقيقي مرشد مې راغی ده خبر کړم له ژوندونه
رانه پاته سولې چارې د سجدو د طاعتونو
راته نور مقدس نه وه په سيندونو کې غسلونه
وروسته پوه سوم په جهان کې لېونی يوازې زه وم
نور دا ټول خلک هوښيار دي او سالم يې دي مغزونه
له هغه وخته بيا نه يم په ايرو کې رغړېدلی
نه مې بيا دي ننگولي زنگولي او معبدونه
نه بتانو ته سجدې کړم نه پر تخت يې کښېنومه
نه د ختو خدای منمه نه ور وړم ورته گلونه
نه د ځان په کړولو خدای له چا خوشاله کيږي
نه له چا غواړي چې لوخ سي او يا ووژني فکرونه
هغه څوک چې مهربان دی چې صادق پر لارې سم دی
په نړۍ کې چې يې سم دي پر ريښتيا باندې کارونه
چې پر مځکه باندې گرځي هغه ټول لکه ځان بولي
دا رسيږي ستر خالق ته چې يې نه وژني مرگونه
کبير وايي دا رسيږي هغه لوی رينتوني نوم ته
چې کلام يې مقدس دی نه غرور سته نه مکرونه

پای